**لیکونکی: فرید ریک ګراسر(Frederic Graser).**

*منبع او خپرېدو نېټه : EastAsiaForum«2017-05-26».*

***ژباړونکی : پوهند وی دوکتور سید حسام «مل» .***

---

# *آیا هند کولای شی چي په افغانستا ن کی خپل لوبي ته بد لون ورکړي*

Can India Be A Game changer in Afghanistan

*د افغا نستا ن پخوا نی جمهور ریس ښاغلی حا مد «کرزی» پخپل یو مطبوعا تی مصا حبه د می په میا شت کا ل (۲۰۱۷) کی دامریکی دمتحده ایالاتو پر پا لیسی باندي دافغانستان په اړین په ډ یر شد ت سره ګوت څنډ نی او نیوکی وکړ او یوځل بیا دهند څخه وغوښتل چي د افغا نستا ن سره د خپل هیواد مرستی زیا تی کړی اوهغه هم بیا په ځا نګړی توګه دافغا نستا ن دملی پوځ سره چی دهند دمرستي په رڼا کی د افغانستان پوځ وشی کړلی چی د دیورند د کرښی په سرتا سرکی یعنی هغه کرښه چی له ډیر اوږدی مودی څخه دافغانستان اودپاکستان د سرحدی اختلافاتو کرښه دي د افراط ګرایي اود تروریستي ډلو تېلودیرغل په وړاندی دخپل هیواد د ملی حاکمیت اوداستقلال څخه دفاع وکړی .*



*له هند څخه د حامد «کرز» دغه غوښتنه دهغه دخپل لړلید د سیمی په اړه اودهغه دخپل زړه ګرمی اودعلاقی پربنیاد یوه غوښتنه او تقاضا دی - هغه یعنی حامد «کرزي» له هند څخه دافغانستان دملی اردو د پیا وړتیا او د پوره غښتلتیا په خاطر یوه څرګند غوښتنه تر سره کړ ، هغه همد ا شان د خپل مرکي په ترڅ کی په ډاګه کړ چي ما دخپل زمامداری په وخت کی پر پاکستان اوپر امریکی با ندی وار په وار سره نیوکي کړی*

اوهغه داچي پاکستان دافغانستان د ملی حاکمیت د نه احترام په لرلو سره تل د طا لبا نو سره مرستی تر سره کړی اودامریکی متحده ایالات په ډاګه سره دخپل متناقض سیاسیی اوستراتیژیکی چلند په پیروی سره دافغانستان په داخلی چارو کی له هیڅ ډول لاس وهنو څخه نه دی سپمولی چی داپخپله افغانستان ته لوی سرخوږی رامینځته کړی دي، نوهغه یعنی «کرزي» هند ته داسی وړاندیز وکړ چي هند باید دافغانستان په چارو کی دامریکی دمتحده ایالاتو ځای ناستی غوره کړی ترڅو چی دافغانستان دولت دهند دمرستو دترلاسه کولو په رڼا کی خپل چا ری پخپله تر سره کړي .

**په ځرګند بڼی سره با ید وویل شي چي د «کرزی» وړاند یزونو کوم واقعی او حقیقی پا یی نه لری .**

اوداځکه چي هند په افغانستان کی په ډاډه زړه دخپل یوزیات شمیر پوځیانو سره په دوامدار توګه نشی پاتی کیدای او یا دهند د پوځیا نو تلپا تي شتون په افغانستان کی بلکل ناشوني دي دا یواځی وروسته دکال (۲۰۰۱) څخه ممکن شو چي هند دافغانستان داقتصاد په سمون کی برخه واخلی اودا ځکه چی په ا فغا نستان کی نسبی ثبا ت او تیکا و د ا مریکی د متحده ایالاتو د نظا میا نو په راتګ سره را مینځته شو، اما هند دپاکستا ن سره د جغرافیوی رقا بتی او مقا یسوی ګټو په سیا لی کی نشی کولای چي د افغنستان پوځ سره بشپړه مرستی ترسره کړی یا دهغه نظامیانو اوسرتیرو ته روزنه ورکړی اویا هغوی په درانه او ثقیل سلاحګا نو سره تجهیز کړي .

سره له دی چي اوس هم په افغانستان کی ناقراری او شخړي دوام لری مګر بیاهم هند دپا ره یواځنی لاره دا دی چي له افغا نستا ن څخه هراړخیزه ملاتړ او سا تنه وکړی یا داچي لا تراوسه پوری هم په افغانستان کی ګډوډی او اړی دوړی ته لمن وهل کیږی چي دهغه پا یلي ممکن دا فغا نستا ن د حکومت څخه بی له سقوط کوم بل شی نه وي لکه چي مونږ تولو ددی شاهد یاستو چی د حوت په میا شت کا ل (۲۰۱۶) کی دجمهور ریس محمد اشرف «غني» اود اجرایوی ریس عبد الله عبدالله تر مینځ دقدرت داخیستلو پر سر نانداری پیدا شو کوم چي دهمدی را ولاړ شوی نانداری په پایله کی په اصطلاح سره یونا کارآمد دولت د( وحد ت ملی دولت ) تر نوم لاندی رامینځته شو یعنی هغسی یو دولت چي هند ته دهغه ماهیت پوره معلوم او څرګند دی مګر بیاهم هند ته بله لاره نه ترسترګو کیده چی ددی دولت کوم بل ځای نا ستی ته په اوسنی حا لت کي زړه ښه کړي .

دهند دیپلوماتیکی فعالیتونه په منطقه کي دیو لړ موجوده شرایطوپه نظرکی نیولو سره هم د یو شمیر پیچلیتیا سره مخا مخ دي اودا ځکه چی د یوی خوا څخه دافغانستان په هکله دامریکی دمتحده ایالاتو راتلونکی پا لیسی نا څرګند اود یولړ شکونو سره مل دي اود افغانستان ګاونډ یا نو هر یو دخپل شرطونو په پلی کولو سره دفرصتونو په لټه کي دي او د بلی خوا څخه پا کستان په منطقه کی د یو نظامی هیواد په صفت طالبانو سره

دافغانستان په نا رامی کی مرسته کوی ترهغه ځا یه پوری کوم چي اوس د سوریی اودعراق د اسلامی افراطی دولت(داعش) جنګیا لی په افغانستان کی د بی ثبا تی په موجودیت سره دهری ورځی په تیرید و سره دهغو شمیر زیا تیری او په افغانستان کی داسی حالات رامینځته شوی چی با ید لوبغا ړي پخپلو لوبو کی بد لون او تغیر راوړي او پا کستا ن په منطقه کي هغه هیواد دی چی د دی فرصت څخه په ګټه اخیستو سره غواړی چي خپل ګاونډ یا ن را وهڅوی چی دهغه دسیا ست په لیکه کی سره هماهنګ شی .

همدارنګه چین دهند داقیانوس په سواحلو کی دخبل حضور په لټه کی سیمه دیو لړ بی ثباتی او پیچیلتیا سره مخامخ کړی دی اودبلی خوا څخه چین په دی هڅه اوند کی دی چی دپاکستان تر ټولو خطر نا ک سلوک ته معتد ل رنګ ورکړی او دی ته ما یل دی چی پا کستا ن په یو اوبل ډول سره وهڅوی چی دافغانستان په داخلی اوامنیتی چارو کی پراخه لاس وهنه وکړی او بیا وروسته د افغا نستا ن دبحران مد یریت پاکستان ته وسپاری اوپه دی ډول سره غواړی چی په منطقه کی دپا کستان موقف لوړ کړی او ددی مقصد د پلی کولو د پاره له ټولو نه په سرکی غواړی چي روسیه د هند سنتی شریک پا کستان ته نژدی کړی دا دچین دستراتیژیکی هدف هغه یو برخه دی کوم چی غواړی په دي اقدام سره روسیه دی ته مجبور کړی چي د پا کستان ځنی استدلال او غوښتنی ومنی لکه دښه اوبد طا لبا نو ویش او طالبان د داعش په وړاندی ځا نته سره نژدی کړي او په اصطلاح ښه طا لبا نو سره مرسته وکړي .

**لذا ددی ټولو پورتنیو یا دونو څخه بیا هم هند کولای شی چي د افغا نستا ن په هکله خپل نقش یا لوبی ته بد لون ورکړي ؟**

هند په یقینی توګه سره کولای شي چی دافغانستان امنیتی قوتونو سره مرسته وکړی اوپه دی شان دطالبانو دجګړی لګښتونه لوړ کړی اما په واقعی بڼی سره نشی کولای چی دروانی جګړی دعموی خوځند مخه ونیسي . هند په ورته بڼی سره دافغانستان د اقتصاد دودی اوپرمختګ ته لازمی اسا نتیا وی برابرکړی اما ددی پا نګی اچونی په بد ل کی دسود تر لاسه کول د یو لړشکونو سره به مل اووسی اوپه سیاسی عرصه کی هند کولای شی چي دافغان داوسنی دولت پر اصلی کړیو اوفعا لینو با ندي یوه معتد له نفوذ پلی کړی، اماهند به هیڅکله ونشي کړلی چي پخپل میل اورغبت سره داسی یودریځ او موقیعت تر لاسه کړی چی دافغانستان دموجوده حکومت د ثبات اود دوام ضامن شی اویا دهغه دبقا ضما نت وکړی .

اما په ډیر ښه حالاتو کی کیدای شي چي هند د ا فغا نستان یوډیر ښه ګټور متحد اووسي اما دا هیڅکله نشی کید لی چي هند په افغانستان کي د امریکی د متحده ایالاتو دځای نا ستي موقف تر لاسه کړي ، په ډاګه باید وویل شي چي افغانستان اوس ډیر ښه چانس تر لاسه کړی چي دواشنګټن د یو نژدی همکا ر او د هغه د مرستو په مسیر کی

*ولوید لي کوم چي دهمدی نژدی کډ همکا ریو په روند کی د امریکی متحده ایالات دافغانستان پوځ اوامنیتی قوتونو ته لازمی نظا می مرستی تر سره کوی اوپه دي توګه دافغانستان دموجوده حکومت د بقا د پاره په پوره ډاډ سره راولاړ شوی خنډ ونه یود بل پسی له مینځه وړی او هڅه کوی چی دحکومت مخالفین د مذاکری میز ته را جلب کړي اما دیو پراخ آنځور په نظر کي نیولو سره باید څرګند کړشی چي دنوی ډهلی دمانورونو حد اوحدود ډیر پُس ، ارام او کمزوری دي .« کرزی» دی ته اړتیا لری چی واقیعتونه په ډیر غور سره په پام کي وسا تي کله چي هغه په سیا سی محاسبا تو کی لاس پوری کوي .*

***دمقالی دلیکونکی په اړه*** *: « فریډریک ګرار» دبین المللی سولی د پا ره* ***دکارنګی*** *په بنیاد کی یوغیر مقیم شخص دي .*

***---------------------------------------- په درنا وي «۲۰۱۷-۵-۲۸ »***